# زېری

علمي- څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

پنجشنبه، (۱۱-۱۴مه) ګڼه، (سنبله- مېزان) ګڼې ، درېيمه دوره، پرله‌پسې (۳۷۹- ۳۸۲مه) ګڼه، د ۱۴۰۰ل.کال د مېزان(تله) د میاشتې ۲۹مه، د ۱۴۴۳هـ.ق. کال، د ربيع الاول د میاشتې ۱۴مه او د ۲۰۲۱ز.کال، د اکتوبر ۲۱مه.


پـه دنيا کې که څه کار دی، خو د دين دی
د دې کار پـه کـنـنـده و آفـريـن دی
چې تقوی او دينداري يې شي پـه برخـه
د هغو د سـعـادت سـتـورى قـريـن دی
رحمان بابا

# طنز؛ د ټوکې ژانر نه دی


څېړنوال سيدنظيم سيدي


عام وګړي لا تر اوسه طنز او ټوکې ټکالې په خپلو ذره بيني سترګيو کې په يوه تالۍ کې ګوري او داسې انګېري، چې ګواکې طنز يعنې ټوکه او خندا، يوه شببه طبيعت خوشحالول او هر ډول خپګان شا ته پرېښودل، له دې پرته چې پر دې فکر وکړي چې کوم پيغام لري او که نه، خو چې انسان وخندوي هماغه طنز دی، په داسې حال کې چې ادب څېړونکي له دغې خبرې سره نه يوازې همغږي نه دي؛ بلکې په جدي توګه يې ردوي او وايي: د طنز په وسيله د يو قام او ولس د معاشرتي او ټولنيز ژوند معلومات ځانته څرګندولای شو.[1] څکه کله چې ليکوال طنز ليکلو ته اړ کېږي هرومرو په ټولنه کې يو داسې تحرک يا خوځښت رامنځته شوی وي، چې ليکوال يې د طنز ليکلو ته اړ ايستی وي او دی هم په داسې هنر سره طنزپنځونه کوي، چې ولس تر اغېزې لاندې راولي.

د دې لپاره چې د طنز باريکيو ته په سمه توګه ځير شوي اوسو يو څل بيا به يې پېژندنه ولولو:

طنز ته په انګرېزي کې (Satire) وايي او په بنسټيزه توګه د يو داسې باشعوره، حساس او دردېدلي انسان د ذهن او عمل تجربه ده، چې د چاپېريال له لوړو، ژورو او بې اعتداليو څخه د عشق او مينې تخته جوړوي.[2]

خو ژبپوهان بيا په دې اند دي چې طنز عربي کلمه ده، لغوي معنا يې ناز، کرشمه، پېغور، مسخره کول او رټل ده او په ادبي اصطلاح کې طنز يو ځانګړی ادبي صنف يا ژانر دی، چې په کې ټولنيز فساد او نادودې تر نيوکې لاندې نيول کېږي[3]، خو ځينې ادب څېړونکي يې بيا داسې را پېژني:

✓ پر ټولنيزو بې لاريو، کږلاريو او نورو ناوړه چار چلن او سلوک باندې د ټوکو په جامه کې څه ليکلو او ملنډو وهلو ته طنز ويل کېږي.

✓ طنز هغه ادبي ژانر دی چې د شوخۍ او خندا پر بنسټ منځته راځي؛ خو اصلي موخه يې پر ناوړتياوو او نيمګړتياوو ګوتنيونه ده.[4]

✓ د ټولنيزو نيمګړتياوو، په اداره کې فساد، د ژوند د مهمو مسئلو او بالاخره ټولنيزو ستونزو په ملنډيزو او رشخنديز ډول ليکلو ته طنز وايي.[5]

د طنز په اړه دا او دې ته ورته ډېرې پېژندنې شوي چې په ټولو کې په همدې يوې خبرې ټينګار کېږي، چې طنز ټوکه نه ده او نه د ټوکې په جامې کې يوه خبره ده؛ څکه ټوکه د چاودنې يا انفلاق يوه داسې نقطه لري چې ناڅاپه را درز وهي او آن سخت زړي انسانان هم خندا ته اړ باسي، خو طنز بيا ډېر څله دغسې د چاودنې ټکی نه لري، خو د مسکا او کله ناکله تر مسکا هم وړاندې ځي او سپورې شونډې داسې پرانيزي، چې په لسګونو ډوله دردونه او خپګانونه په کې نغښتي وي، چې هر يو يې ځوابول او چا ته ځيرل غواړي، چې يا نه دي ځواب شوي او يا هم قانع کوونکي نه دي.

نو که چېرته پورته خبره ومنو بيا ويلای شو، د طنز الفاظ په ساده‌وو کې داسې رنګين وي، لکه په ليکوالو کې چې کره کتونکی وي، څکه د طنز ۳مخ



۲مخ


ابو رشيد متقي


لَاأَدْرِيْ

زه نه پوهېږم.

۲مخ


څېړنپوه مولاجان تنيوال


# ژبنی زوال

مخکې له دې څخه چې د ژبني زوال د نومونې مفهوم جوت کړو، دا يادونه بايد وکړم چې د زوال ويی ډېرې معناوې لري؛ لکه واک له لاسه ورکول، له قدرت څخه لوېدل، لرې کېدل او داسې نور. کله کله خو داسې هم ويل کېږي چې ((لمر زوال شو.)) د دې يادونې مفهوم لمر تر سر اوښتل او لوېديځ لوري ته تلل په ګوته کوي.

پښتون قوم له ډېرې پخوا څخه تر ننه پورې دا متل لري او کاروي يې چې ((کبر دې زوال شه)) يا داسې هم وايي چې ((خدای دې زوال درکړي.)) يا ((خدای دې زوال ورکړي.)) د دې متل ډولونه د ظالمو اشخاصو، افرادو، ډلو ټپلو او رژيمونو د زور، ظلم او جبر د پای ته رسېدو غوښتنه کوي، دا هم کېدای شي چې په ډېرو پښتني قبيلو کې به د دې متل نور وريانتونه هم وي او همداسې يو مطلب او مفهوم به افاده کوي. زما په خيال که چېرې يو څوک په يوه کلتور کې دا ډول مفاهيم ولټوي او کار پرې وکړي کولای شي چې د ټولنپوهنې او ژبپوهنې ترمنځ په نيردې او پخو اړيکو باندې په اسانۍ سره وپوهېږي او دا به هم ورته ښکاره شي چې دوی دواړه د يوې او بلې متممې دي. د دې لنډې يادونې څخه وروسته غواړم چې د ژبني زوال په اړه ګرانو لوستونکو ته څو ليکې وړاندې کړم.

پاس مو د زوال د ويي معنا او مفهوم د متلونو په راوړلو سره څرګند کړل اوس به دا وګورو، چې ژبنی زوال څه شی دی او څنګه رامنځته کېږي؟ ژبنی زوال د يوې ژبې نه کارولو، له مخې غړولو او ورکولو ته وايي. داسې يو حالت چې يوه ژبه پورته يادو شويو او يا هغوی ته ورته نورو دريځونو ته رسوي. د ژبې خپله هيله او غوښتنه نه ده او د يوې ژبې ويونکي او کاروونکي هم دا علاقه نه لري، چې خپله مورنۍ ژبه په خوښه او اسانۍ سره له لاسه ورکړي. ډېر لاملونه۳مخ


څېړنپوه دوکتور سيدمحي الدين هاشمي


# د ډله‌ييزې مفاهيمې رسنۍ

## (ټولنيزې موخې او د کارکوونکو مسئوليتونه)

نن سبا د نړۍ په پرمختلليو او مخ پر ودې هېوادونو کې د ډله‌ييزې مفاهيمې رسنۍ د ټولنې له عمده ارکانو څخه ګڼل کېږي، چې بې له شکه کولای شي په خپلې ارزښتناکې محتوی او منځپانګې سره د ټولنې په فکري ودې او د سياسي، ټولنيزې او فرهنګي پوهې په لوړتيا او پياوړتيا کې ټاکوونکی نقش او اغېز ترسره کړي، د خلکو هيلو، ارمانونو او ټولنيزو خوځښتونو ته لوري ورکړي، عامه افکار د بشپړتيا او لوړتيا په لور وخوځوي، و يې پالي او په پايله کې د وګړو فکري ځلاوې په منطقي لارښوونو او روښانو مستدللو افکارو ډکې کړي.

هيڅوک له دې حقيقت نه سترګې نشي پټولای چې د ډله‌ييز ارتباط وسايل، لکه راډيو، ټلويزيون، ورځپاڼې، مجلې او نور له يوه نه نورو ته او همدارنګه له يوه ځای نه بل ته د معلوماتو او اطلاعاتو په رسولو او لېږدولو او يا په بله ژبه د انساني افکارو او اندېښنو په تبادله او د لازمي خبرتيا او پوهېدنې په تامين کې خورا ستره ونډه او ژوره اغېزه لري.

همدغې اغېزې ته په پاملرنې او کتنې سره لوناچارسکي وايي چې: "پر ټولنه باندې د اغېزو کولو په لړ کې له خپرونو څخه هيڅ شی هم ګټور نه شي تماميدلای."

د ډله‌ييز ارتباط رسنيو او وسايلو د خپل پرمختيايي يون په بهير کې له ډېرو لرغونو زمانو راهيسې په بېلابېلو بڼو؛ لکه د اور بلولو، جار او جارچي، نغارې يا ډول وهلو، د ليکونو او فرمانونو په وسيله د ډله‌ييز ارتباط او مفاهمې څخه رانيولې بيا تر طباعتي او چاپي خپرونو اخبار، مجله، کتاب... او بيا ورپسې د الکترونيکي خپرونو راډيو، فلم، ټلويزيون او اوسنيو ډېرو پرمختلليو عصري وسيلو، په ځانګړې توګه تر انټرنيټ پورې هر يو په خپل- خپل ځای د زمان او مکان له شرايطو او غوښتنو سره سم د بشري ټولنې په معنوي او مادي پرمختګ کې د يادونې او ستاينې وړ ونډه لرلې او له ډېر ستر ارزښت څخه برخمن دي.

د ټولنيزو او ادبي علومو يو پوه د ډله‌ييز ارتباط وسايلو د ارزښت او اهميت بيانولو په ترڅ کې وايي: د ډله‌ييز ارتباط وسايل کولې شي چې اطلاعات او معلومات خلکو ته په ډېرې آسانۍ او چټکۍ سره ورسوي، په خلکو کې د پلټنې او کنجکاوۍ حس راپاروي، نړۍ ليد يې پراخه کړي، د ښوونې او روزنې بهير ته پراختيا او چټکتيا او افرادو ته د خپلې سيمې، هېواد او سيارې سره انطباق ورکړي. خو د دې دومره ښېګڼو تر څنګ دا توان او ځواک هم لري چې خلک تېر باسي، په کړکېچونو کې يې راښکېل او له ځانه يې بې ځانه کړي.

څومره چې د ډله‌ييز ارتباط د وسايلو ارزښت او اهميت جوت او د ډېرې پاملرنې وړ دی دغسې رسنيو او وسايلو د کار کوونکو نقش او دنده هم ډېره ۳مخ


ليکواله: مېرمن رياحي

ژباړن: څېړنيار فضل الرحمن عليزی


# د مقالې ليکلو لارې چارې

يوولسمه (وروستۍ) برخه

## لسم ګام

## د بحث او پايلې د ليکلو څرنګوالی

د بحث او پايلې د ليکلو په برخه کې تر ډېره د پايلې د بحث تفسير او له څېړنې سره د موندنو اړيکې، همدارنګه د څېړنې په تيورۍ باندې خبرې کېږي. د دې برخې جوړښت د سريزې (مقدمې) برعکس دی، څکه دا برخه د څېړنې له جزئياتو پيل کېږي او کلياتو ته ځي؛ يعنې دلته بحث له جزئياتو کلياتو ته بيول کېږي. د بحث (Discussion) او پايلې په برخه کې بايد دې پوښتنو ته چې: ((لاسته راغلې پايلې چېرته کارول کېږي؟)) او ((لاسته راغلې پايلې څه معنا لري؟)) ځواب وويل شي يا ځواب ويل کېږي، ښکاره خبره ده چې دا څېړنه د يوه هدف لپاره تر سره شوې ده، نو پايلې يې هم بايد وښودل شي.

د بحث او پايلې د برخې ليکل د مقالې تر ټولو ستونزمنه برخه ده او يو ژور تفکر ته اړتيا لري. د دې برخې حجم بايد د ټولې ليکنې له درېيمې برخې څخه ډېر نه شي، دغه برخه که څومره لنډه، واضح او روښانه وليکل شي هغومره به ښه وي.

**د بحث او پايلې په برخه کې بايد لاندې ټکي په پام کې ونيول شي**

۱. د بحث په لومړيو کې دې د يوه پاراګراف په ترڅ کې د مهمو موندنو لنډيز را وړل شي.

۲. پايلې دې له مخکني کار او څېړنې سره پرتله شي.

۳. د موندنو علمي او عملي کار ځايونه دې په بحث کې روښانه شي.

۴. د څېړنې په وخت کې دې د ستونزو او خنډونو په اړه بحث وشي.

۵. هغه څه چې تاسو غوښتل، د موندلو او نه موندلو په اړه دې يادونه وشي؛ يعنې دا دې وښودل شي چې هغه څه چې مو‌ر غوښتل په دې څېړنه کې يې تر لاسه کړو، تر لاسه شوي، يا نه دي ترلاسه شوي او د نه ترلاسه کېدو لاملونه يې څه دي.

٦. په دې برخه کې د نورو څېړنو لپاره هم بايد وړانديزونه شريک شي.

۷. له ټول بحث او په لاس راغلې پايلې څخه دې په لنډ ډول نتيجه وړاندې شي.

پر دې اساس اړينه ده چې د بحث په برخه کې د مخکينو څېړنو او اوسنۍ څېړنې ورته والی او توپيرونه روښانه شي، د څېړنې کمزوري ټکي دې وښودل شي، هغه ټکي دې هم وښودل شي چې د دې څېړنې د موندنو او لاسته راوړنو په برخه کې ګټور واقع شوي دي.

د خپلې څېړنې او خپل کار اړيکې له مخکينو څېړنو او کارونو سره، په ځانګړي ډول د تر سره شوو څېړنو په برخه کې بايد روښانه شي، بحث وربانديز وشي او ټول هغه موارد چې د دې څېړنې د موندنو په برخه کې تر سره شوي، بايد ۲مخ





ليکوال: پروفيسر انور جمال

ژباړه: نازو کمال


### ۳۰. ترفع (Sublimation, Sublimity)

ترفع د کره کتنې يوه ډېره پخوانۍ اصطلاح ده او د ليکنې هغې ځانګړنې ته ويل کېږي، چې په وسيله يې يوه ليکنه له عامې کچې لوړه او يو ځانګړی مقام پيدا کوي. په ادبياتو کې يې هدف لوړتيا او عظمت دی. جايي نس په خپله رساله (On the sublime) کې ترفع داسې راپېژني: ترفع د يوې ژبې لوړتيا ده، او هدف يې دا دی چې انسانانو ته وجداني کيفيات ور حاصل کړي. جايي نس په شعر او نثر کې د ترفع پيدا کولو لپاره دا ځانګړنې ګټورې بولي:

۱ـ د خيال لوړه کچه

۲ـ د صنايعو او بديع کارونه

۳ـ ګټور ترتيب

۴ـ د احساساتو د پياوړتيا شدت

۵ـ د غوره او عالي الفاظو استعمال

کانت يې په ليکنه يا هنر کې د ابهام د رامنځته کېدا يوه وسيله هم ګڼي.

### ۳۱. تذکره (Biographical Memories)

دا يوه نثري اصطلاح ده، موخه يې بيانول او ذکر کول دي. د يوې زمانې يا عصر د شاعرانو حالات او پېښې په کې بيانېږي. په اصل کې د تاريخ يوه برخه ده، چې د شاعرانو د وخت حالات، پېښې، عادتونه، طرز او شعري صلاحيتونو بيانوي، يعنې په دې حساب څه نا څه د څېړنې په برخه کې هم شاملېږي.

### ۳۲. تشکک ـ تشکيک

د فلسفې د يوه فکري مکتب اصطلاح ده. تشکک د يقين پر خلاف استعمالېږي. د دې مکتب پلويان وايي، چې موږ پر هيڅ موضوع حتمي او مطلق حکم نه شو کولی، ځکه يو مطلق حکم نور نفي کوي.

### ۳۳. تصرف (Amendment)

تصرف شعري اصطلاح ده، موخه يې اختيار او مداخله کول دی. د کوم شاعر يا نثر ليکوال په ليکنه او کلام کې د ځينو بدلونونو راوستلو او په هغه کې د نوي کيفيت رامنځته کولو ته تصرف ويل کېږي. تقريباً د نړۍ په ټولو ژبو کې د تصرف دايره ډېره پراخه ده، چې د نړۍ ژبې له يوې بلې بې شمېره لفظي او معنوي تصرف کوي. دا ډېره په زړه پورې اصطلاح ده، شاعر په مناسب وخت کې په شعر کې مناسب بدلونونه راوړي او په داسې ډول يې جوړوي چې شعر، ليکنه يا هره پنځونه يو نوی لفظي او معنوي شکل اختيار کړي.

### ۳۴. تعريب

دا يوه ژبنۍ اصطلاح ده، چې د بلې ژبې په کلمو کې ډېر عادي او ابتدايي بدلونونه راوړل شي او په عربي کې دود شي، تعريب ورته ويل کېږي.

### ۳۵. تعريض (Irony)

د بيان علم اصطلاح او د کنايې د يوې برخې نومونه ده. چې په کلام کې د موصوف له يادونې پرته د هغه په اړه څرګندونه ته ويل کېږي. د مثال په توګه د دروغجن پر وړاندې د دروغو غندنه، دا چې دروغ ويل ډېر بد عادت دی. تعريض د کنايې وروستی شکل دی، د پوهېدو لپاره يې د لوستونکي ذهني کچه بايد ډېره لوړه وي يا وواېو چې په کنايه او اشاره کې د چا د عيب څرګندولو ته تعريض ويل کېږي.

### ۳۶. تعقيد (Vagueness)

تعقيد د کلام عيب ګڼل کېږي. په څرګند ډول خبرو نه کولو ته وايي. يا دا چې په کلام کې د ترکيبونو د اجزاوو بې ځايه کولو ته ويل کېږي، چې په پوهېدو کې يې له ستونزو سره مخامخېږو. تعقيد لفظي او معنوي کېدای شي او لوستونکي په شک کې اچوي.

### ۳۷. تفريس

دا هم ژبنۍ اصطلاح ده چې د کومې بلې ژبې کلمې لږې بدلې او په فارسي ژبه کې يې استعمال عام شي، تفريس ورته ويل کېږي؛ لکه د انګريزي ژبې پروفيسر يې پرفسور، انستيټيوټ يې انستيتوت او ګاندهي يې ګاندي کړي دي يا په اصطلاح تفريس شوي دي.

### ۳۸. تقريظ

تقريظ د کومې ادبي ليکنې تعريف او ستاينې ته ويل کېږي. د جاهليت په زمانه کې به عرب شاعران په عکاظ بازار کې راټولېدل او خپلې قصيدې به يې لوستې او چې کله به د محفل مشر د غوره قصيدې ستاينه کوله؛ نو هغې ته به يې تقريظ ويل.

### ۳۹. تلويح

د بيان د علم اصطلاح ده، د کنايې د کورنۍ برخه هم ده. هغه کنايه چې د لازم او ملزوم ترمنځ څو ډوله اړيکې وي. د مثال په ډول: د زيد په کور کې نغری سوړ دی. که ظاهري معنا ته يې وګورو، اور نه دی بل شوی، چې اور بل نه شي، ډوډۍ نه پخېږي، يعنې په اصل کې د بخل او کنجوسۍ علامې دي، يا د غريبۍ او غربت نښې دي او دا تلويح ده.

### ۴۰. تنافر (Cacophony)

د معاني اصطلاح ده، معنا يې کرکه کول او له يوه څه تېښته ده. تنافر د شعر عيب دی، په کلام يا شعر کې د داسې تورو کارول چې پر لطيف ذوق لرونکي لوستونکو او اورېدونکو ناسم ولګېږي، تنافر يې بولي. يا دا چې په کلام کې د يوې کلمې وروستی توری تر هغې وروسته د بل لفظ لومړی توری يو وي، يا لږ تر لږه د وروستي يا لومړي تورو تلفظ يو ډول وي، تنافر ترې رامنځته کېږي. دا چې شاعري ډېر لطيف هنر دی، ډېر لږ حروفي يا فکري عيب هم پر نازکه طبع سخت تمامېږي، نو پر همدې اساس يې معاني علم لوی عيب ګڼي.

## لا ادري...

هر څوک چې د يوه څه په اړه معلومات ونلري او له نوموړي څخه د هماغه څه په هکله پوښتنه وشي، نو د ((لَا أَدْرِيْ)) او يا هم دېته ورته د نورو جملو ويل؛ لکه ((اَللّٰهُ اَعْلَمُ. وَ اللّٰهُ اَعْلَمُ)) پر خپل ځان لازمي وګڼي، نه دا چې د کم علمۍ له امله د شرم احساس وکړي، ځان او نور خلک د غلط ځواب په ور کولو سره د ضلالت او ګمراهۍ کندې ته ور ټېل وهي. هيڅوک بايد له خپل ځان څخه د علم په نفې کولو کې شرم و نه کړي؛ ځکه چې ناپوهي د انسان له پوهې څخه زياته وي. مرقاة ۱ټوک ۴۷۹مخ

ملايکو ته چې کله الله پاک وفرمايل: ((فَقَالَ أَنۢبِـُٔونِي بِأَسۡمَآءِ هَٰٓؤُلَآءِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ))[سُوۡرَةُ البَقَرَة ۳۱] که ستاسې دا ګومان صحيح وي، چې د خليفه په ټاکنه کې به نظم وران شي، نو د دې شيانو نومونه راته ووایاست! ملايکو ورته په ځواب کې وويل: ((قَالُوا سُبۡحَٰنَكَ لَا عِلۡمَ لَنَآ إِلَّا مَا علمتناۖ إِنَّكَ أَنتَ الۡعَلِيمُ الۡحَكِيمُ))[سُوۡرَةُ البَقَرَة] هغوی عرض وکړ: له نيمګړتياوو څخه خو يوازې ستا ذات پاک دی، موږ خو صرف دومره پوهه لرو، چې تا موږ ته راکړې ده؛ په حقيقت کې په هر څه پوهېدونکی او د حکمت خاوند يوازې همدا ته يې!

جار الله زمخشري په ((ربيع الأبرار)) کې ليکلي دي: ((له حضرت علي[كرّم الله وجهه] څخه د يوه شي په هکله پوښتنه وشوه او دی مبارک په منبر ناست و، ده مبارک وويل: لا أدري. پوښتنه کوونکي ورته وويل: ته څنګه لا أدري وايې او په منبر هم ناست يې؟ ده مبارک ورته وويل: زه د خپلې پوهې په اندازه تر دې ځايه (منبر) پورې راختلی يم او که چيرې زه د خپلې ناپوهۍ په اندازه پورته لاړ شم، نو تر آسمانه به ورسيږم. مرقاة ۱ټوک ۴۷۹مخ

همدارنګه، له جملې د علم نه خودي دا هم ده، چې سړی د هغه شي اړوند چې دی علم نه وربانديې لري، ووايي: لا أدري. په حديث شريف کې راځي: فان من العلم ان تقول لما لا تعلم: الله أعلم. مرقاة ۱ټوک ۴۸۰مخ

ابرهري رحمه الله العزيز ويلي دي: معلوم له مجهول څخه تميز (جلا کول) د علم يوه نوع ده او همدا مناسب ده له هغې خبرې سره چې چا ويلي دي: لا أدري نصف العلم. څوک چې دا وړتيا و نه لري، چې خپل معلومات له مجهولاتو څخه بېل کړي، هغه ته جاهل مرکب ويل کېږي. مرقاة ۱ټوک ۴۸۰مخ

له همدې کبله پخوانيو علماوو (سلف) له فتوا ورکولو څخه ډېره وېره لرله او ځان به يې ترې ساتلو.

له امام مالک رحمه الله العزيز څخه د څلوېښتو (۴۰) مسألو پوښتنه وشوه، په څلورو (۴) مسألو کې يې ځواب ورکړ او په پاتې (۳٦) مسألو کې يې ((لا أدري)) وويل. مرقاة ۱ټوک ۴۸۰مخ

نو په کار دي چې ځانونه د علم او پوهې د نه لرلو په وخت کې د تکلف او تصنع ښکار نه کړو او نه بايد د بطن المختار، فتاوی البطنيه څخه ځوابونه ور کړو. هسې نه - خدای مه کړه- ځانونه د ضلوا و اضلوا مصداق کړو او خپله بېړۍ په خپل لاس ډوبه کړو.

## د مقالې ليکلو...

يادونه يې وشي او خپل وړانديزونه هم وړاندې شي.

د خپلې څېړنې موندنې دې د مخکنيو څېړنو له موندنو سره په اړيکه کې وښودل شي، که چېرته موندنې له مخکنيو موندنو سره يو ډول نه وي، يا همغږې نه وي، نو لامل دې په ګوته شي او په پای کې دې د څېړنې کمزورې ټکي له يو لړ وړانديزونو سره د نورو څېړونکو لپاره چې غواړي په راتلونکي کې په دې اړه څېړنه وکړي وړاندې شي. د مقالې د پای په برخه کې کولای شئ چې له خپلو ملګرو، تخنيکي همکارانو او هغو کسانو څخه چې په دې څېړنه کې يې له تاسو سره مرسته کړې، مننه وکړئ او کور وداني ورته ووايئ.

**د بحث او پايلې جوړښت**

۱. کولای شو چې دويم ځل بيا هم د څېړنې د هدف راوړو يا دا برخه د څېړنې د هدف په دويم ځلې يادونې سره پيل کولای شو.

۲. د څېړنې موندنې په بېل او ځانګړي ډول بايد راوړل شي.

۳. لاسته راغلې پايله دې د مخکينو څېړنو له پايلو سره پرتله شي او د دې يادونه دې هم وشي چې آيا دا موندنې د مخکينو څېړنو له موندنو سره يو ډول دي او که نه.

۴. لاسته راغلې موندنې څرګندې کړئ، چې ولې دا پايله تر لاسه شوې ده. د دې کار لپاره کولای شئ له ماډلونو، نمونو او يا هم له بېلابېلو نظرونو څخه کار واخلئ.

۵. ټولې لاسته راغلې موندنې دې د پايلې په برخه کې په لنډيز سره راوړل شي.

٦. د څېړنې محدوديتونو څخه يادونه وکړئ او د راتلونکو څېړنو لپاره دې وړانديزونه وړاندې شي.

**د بحث او پايلې د ليکلو د برخې بنسټيز اصول**

۱. په لومړي سر کې دې د لاسته را غلو پايلو اړوند يو ټوليز بحث پيل شي. تر دې مخکې يو ځل بيا هم کولای شئ چې د څېړنې له اصلي هدف څخه لنډه يادونه وکړئ.

۲. د دې برخې جوړښت تر نورو برخو ډېر فني او مسلکي دی. دلته په ځانګړي ډول د پايلو د ښودلو او څرګندولو څخه بحث پيلېږي او وروسته له موندنو څخه يوه پايله وړاندې کېږي. يعنې چې په دې څېړنه کې څه تر لاسه شوي دي؟

۳. د پايلو را وړلو په برخه کې هڅه کېږي چې د څېړنې حاضره پايله په علمي ډول تر لاسه شوې وي. په دې برخه کې نظري، عملي او تجربوي اصول او موندنې پېژندل کېږي. په پای کې د تر سره شوې څېړنې محدوديتونه او د راتلونکو څېړنو د تر سره کولو لپاره وړانديزونه تر بحث لاندې نيول کېږي.

۴. که چېرته د مقدمې جوړښت د يو کيف (قيف) په شکل په پام کې ونيول شي، چې له کلياتو څخه پيل کېږي او د کيف په څېر هغه نري (تنګ) ځای باندې ختمېږي؛ د بحث د ليکلو جوړښت د کيف سرچپه حالت دی، ځکه بحث لومړی له هغه باريک(نري) ځای څخه را پيل کېږي، يعنې بحث او تفسير لومړی له پايلې څخه را پيل کېږي، وروسته پايلې او د نظريو وړاندې کولو لپاره لاره هواروي او بحث پای ته رسېږي.

۵. وړاندې شوو څرګندونو ته بايد د سريزې له يو شمېر ټکو سره اړيکه ورکړل شي.

٦. پايله بايد په متفاوتو کلمو سره دلته دويم ځل ياده شي.

۷. نوې موندنې دې له نورو موندنو سره د پرتلې په ترڅ کې تفسير شي.

۸. له نورو څېړنو سره دې د پايلو د احتمالي يو رنګوالي او يا بېلوالی څرګند کړي. يعنې لاسته راغلې پايلې تر دې مخکې څېړنې له پايلو سره يو ډول دي او که يو ډول نه دي.

۹. د خپلې څېړنې محدودوالي او له پايلو سره اړوند چارو ته دې اشاره وشي.

۱۰. وړاندې شوي وړانديزونه بايد د محدوديتونو په حل کې د تر سره کولو وړ وي.

۱۱. د موندنو د کارونې ځايونه هم بايد وښودل شي، يعنې دا چې لاسته راغلې موندنې په دې برخه کې کارول کېږي.

۱۲. د شخصي قضاوت له وړاندې کولو څخه دې ډډه وشي. يعنې هغه څه بايد وړاندې شي چې هغه د څېړنې په ترڅ کې تر لاسه شوي وي، نه دا چې څېړنه يو څه وايي او ليکونکي بل څه.

# طنز؛ د ټوکې...

الفاظ ډېرې سيمانتيکي معناوې لري او د هرې خبرې د معنا شاته يې بله معنا نغښتې وي، د ساري په ډول که چېرې کوم زده کوونکی ښوونځي ته ناوخته لاړ شي او ښوونکی ورته ووايي، چې بچيه! لکه چې لاره تياره وه، کاشکې دې څراغ درسره راوړی وای. دا په خپله يو طنز دی چې هم ماشوم او هم د ماشوم کورنۍ ته څير دی، چې ايا سهار وختي را پاڅېږي او که نه او ايا اودس لمونځ کوي او که نه او دې ته ورته نور ايا؟

په هر حال، که په دقيقه توګه د طنز حقيقي معنا ته سترګې پر سترګو کړو، په خپله دې پايلې ته رسېږو چې طنز په واقعيت کې د انسان او ټولنې د روحي او نفسي مسايلو ترجمان ژانر دی، چې په وسيله يې نه يوازې د انسان د زړه غوټې وا کېږي، بلکې سکون هم مومي او ښايي په منظمو ټولنو کې پرې د بې عدالتيو ټغر هم ټول شي او پر انظباط سربېره سمون او رغون هم رامنځته کړي يا په بله وينا طنز په واقعيت کې له غوسې او کرکې څخه هغه ډکه خندا او مسکا ده، چې له يوې خوا مخامخ لوری/ لوستونکی او اورېدونکی خندوي، له بلې خوا د بد، ناوړه او کرغېړن چارچلند پر وړاندې د خلکو او په ټوله کې ولس غوسه را پاروي او په حقيقت کې هغوی يې پر وړاندې پاڅون ته هڅوي.[٦]

همدا لامل دی، چې ادب څېړونکي طنز داوري بولي، چې معمولاً قضاوت او پرېکړه کوي او د پرېکړې بنسټ له مينې، خير، ښېګڼې، جمال، ښکلا، حقيقت او رښتيا څخه خړوبېږي او بويه، چې د دې خبرو پېژندنه او معنا په کې انځور شي.

طنز ويونکی تل په دې هڅه کې وي چې يوه ايډيالي- نه ايده‌اله- ټولنه ولري، داسې ټولنه چې پر حقيقتونو ولاړه وي او هيڅکله خيانت، جبر، ظلم او تېری په کې نه وي؛ ځکه طنز ويونکی يا طنز ليکوال له دغو ښکارندو څخه ډېر بد وړي او همدا يوازينۍ پديدې دي، چې دی خوري او ترې رنځېږي او لامل يې هم دا دی، چې د ده په ذهن کې حقيقت او واقعيت ځالې جوړې کړې وي او دی يې په زغرده بيانول غواړي، خو کړی پرې ډېره تنګه وي او د همدغې لار/طنز په وسيله ترې ځان او ولس ژغورلای شي.

څېړونکي وايي طنز د وينا يا بيان له مخې په دوه ډوله دی، چې يو ته يې تمثيلي او بل ته يې تفسيري طنز وايي. تمثيلي طنز هغه دی چې يوه جدي پېښه په ښکاره داسې انځور کړي، چې ګواکې ټولې ټوکې او ملنډې دي؛ خو په حقيقت کې به يې داسې نالاس وهلو ځايونو ته ګوتې ور وړې وي، چې پېغلتوب به يې را بربنډ شوی وي، خو په تفسيري طنز کې بيا پېښه نېغ په نېغه له نيوکې سره يوځای د هزل په کالب کې وړاندې کېږي، چې ډېر ځله د دغه ډول طنز هضمول هم د ټولنې پښتی ماتوي؛ خو په حقيقت کې يې رغونکی دی.

که د خپلو خبرو لمن يو څه را ونغاړو طنز د انسان د ذهن هغه خارق العاده پنځونه ده، چې د ټولنې ټول اخلاقي، عقلاني او ټولنيز مسايل په يوه شېبه کې د ټولو انسانانو له سترګيو تېروي او دې ته يې ځيروي، چې ټولنه په کوم لوري روانه ده او کومې خوا ته بايد لاړه شي.

د طنز او په ټوله کې کابو د ټولو ادبي ژانرونو د تاريخ په اړه ويل کېږي، چې هغه وخت وپنځېدل او يا يې د پنځېدلو فکر پيدا شو چې کله په نړۍ په ځانګړې توګه لوېديځو هېوادونو کې له کليساګانو او پاپانو څخه واک لاړ او د ليکوالو، سياستوالو او اقتصاد پوهانو قربانيو حالات له يوې مخې بدل کړل او تياره دوره يې د روښنايي يا رنسانس پر دورې بدله کړه. کله چې رنسانس يا د روښنايي دوره پيل شوه، نو په دغه وخت کې هغه ژانرونه چې له دغې دورې مخکې زېږېدلي وو، نور هم ځلاند او وتراشل شول او هغه چې لا پنځېدلي نه وو او د پنځېدلو اړتيا يې محسوسېدله په وار وار له شپاړسمې پېړۍ پيل او تر شلمې پېړۍ پورې وپنځېدل، چې له يوې خوا يې په ټولنه کې سمون او رغون رامنځته کړ او له بلې خوا يې لوېديځ او په ټوله کې نړۍ په دې وپوهوله، چې نور نو د تورتم دوره تېره شوې او هر چا ته په کار دي، چې خپل اواز په ستوني کې زندۍ نه، بلکې اوچت کړي او همداسې وشول، خو پيلامه يې هم همدغو ښاغلو کوله او د بلې ژبې ادب ته يې د خپلې حوصيلې او وړتيا او ځواک اندازه ور جوتوله، چې څومره ده او څنګه بايد وي.

له ښه مرغه د نورو ادبي او هنري ژانرونو په لړ کې طنز هم په شلمې پېړۍ کې پښتو ادب ته لار پيدا کړه او د پوهانو په اند لومړی ځل يې پوهاند عبدالحي حبيبي له مخه پرونۍ لرې او ننداره يې پر افغان (ځپل شوي او دردېدلي) ولس وکړه. پوهاند حبيبي خپل لومړني طنزونه د طلوع افغان په خپرونه کې خپرول، چې په لږ وخت کې يې خورا ډېر مينه‌وال پيدا کړل[٧] کله چې د وخت نور ليکوال د دغه ژانر کمال ته ځير شول، هغوی يې هم پر کښلو تجربې پيل کړې، چې له نېکه مرغه بريالی وې او په پايله کې يې د عبدالروف بېنوا "د زړه خواله"، عبدالاحد وحيد "لويه کورنۍ"، منان ملګري "شريک بالاپوش"، ارواښاد الفت، قيام الدين خادم، سعد الدين شپون، عبدالله بختاني، کاتب پاڅون، محمود نظري او دې ته ورته نورو ليکوالو په څېر څېرې يې وځلولې او په طنز ليکنه کې يې اوچت ځای وموند.

که کوزې پښتونخوا ته لاړ شو هلته هم دا تجربه بريالۍ وه او له افغانستان نه يې مهالي واټن ډېر وړاندې ځي، په دې معنا په پښتونخوا کې لومړی پلا لنډې طنزي ليکنې ارواښاد قاضي ميراحمدشاه رضواني کړې، چې "شکرستان افغاني او بهارستان افغاني" نومېږي. په دغو اثارو کې لنډ، خو له پند او معنا ډک طنزونه راغلي دي، البته ډېر يې د ټوکو په بڼه هم دي، خو اکثريتو ته يې د طنز ژانر د جوړښت له مخې طنز ويلای شو.

له رضواني وروسته د راحت زاخيلي نوم هم د يادولو دی، چې په دې برخه کې يې خورا ښه طنزونه پنځولي دي او له ده وروسته بيا د فلسفي او ناقد شاعر خان عبدالغني خان، محمد نواز ختک، دوست محمد کامل، حسن خان سوز، عبدالله جان مغموم، سعد الله جان برق، محمدهمايون هما، پيرګوهر، راقم الحروف، ډاکټر محمداعظم اعظم او دې ته ورته نورو نومونو د يادولو وړ دي، چې په دې برخه کې يې خورا د پام وړ کار کړی او هنري طنزونه يې پنځولي، چې نه يوازې يې ځان له وجداني عذابه خلاص کړی؛ بلکې د وخت چارواکي يې هم پرې داغلي او ښاخی کړي، چې ډېرو يې د طنز ليکوال د تورو تمبو د دالو او پياتي مېلمانه کړي هم دي، چې له امله يې د دوی قلم ګړندی او سکوندونکی شوی او لا کېږي.

**مأخذونه:**

۱- يوسفزی، مشتاق مجروح. زرکانی، يونيورستی بُک ايجنسي: پېښور، ۲۰۱۰ زېږديز کال، ۲۱۱ مخ.
۲- هاشمي، رفيع الدين. ادبي ژانرونه، د سرمحقق عبدالرحيم ځدراڼ ژباړه، الازهر خپرندويه ټولنه: پېښور، ۱۳۸۵ لمريز کال، ۳۲ مخ.
۳- هاشمي، سيد محی الدين. د نثري ادب ډولونه، وحدت خپرندويه ټولنه: ننګرهار، ۱۳۸۹ لمريز کال، ۲۷۱ مخ.
۴- د نثري ادب ډولونه: ۲۷۳ مخ.
۵- هېوادمل، زلمی. فرهنګ ادبيات پښتو، (درېيم ټوک)، انتشارات کمېټه دولتی، دولتي مطبعه: کابل، ۱۳٦٦ لمريز کال، ۱۵۰ مخ.
٦- هاشمي، سيدمحی الدين. د ليکوالۍ فن (دويم چاپ)، ميرويس کتابپلورنځی: پېښور، ۱۳۸۳ لمريز کال، ۱۰۰ مخ.
۷- د نثري ادب ډولونه: ۲۹۱ مخ.

# د ډله‌ييزې مفاهمې...

مهمه او هغوې ته يو ستر مسئوليت او ټولنيز تاريخي رسالت ور تر غاړې دی، ترڅو د هغه په سم درک سره وکړای شي د ډله‌ييز ارتباط د وسايلو له لارې په رښتينې توګه هېواد او ټولنې ته په ورپېښو موجوده ستونزو باندې نور وپوهوي. دوی کولی شي د خبرونو او معلوماتو په بې پلوه او بې تعصبه برابرولو، سمو او ژورو څېړنو، تحليلونو او تبصرو سره عامه افکار روښانه، پياوړي او هغو ته مثبت لوری ورکړي.

د نيويارک‌ټايمز د ورځپاڼې پخوانی مدير مارکل ټولنې ته د رښتينو عامه افکارو رسولو اړتيا ډېره جدي ګڼي او وايي: موږ په يوې داسې نړۍ کې استوګنه لرو چې د ترلې کان معنا لري، يا يوه داسې نړۍ چې حقايق په کې کم او د حقايقو پېژندنه په کې څه آسانه کار نه دی.

رښتيا هم که چېرې موږ د ډله‌ييز ارتباط او مفاهمې اغېزمنې وسيلې او د هغو لپاره رښتيني په کار پوه مسلکي کارکوونکي ونلرو، چې عامه افکار مو روښانه کړي، هيڅکله به په دې ونه توانېږو چې ټولنيز حقايق درک يا وپېژنو او د هغو په رڼا کې سالم قضاوت وکړو. تر هغې چې موږ خپلې ټولنيزې ستونزې په سمه توګه درک نه کړو معلومه خبره ده چې د حل‌لارې يې هم پلټلې او موندلې نه شو.

د ډله‌ييز ارتباط او مفاهمې د وسايلو د کارکوونکو د بېلابېلو مهمو دندو په پام کې نيولو سره د پايلې (نتيجې) په توګه ويلای شو چې د هر هېواد او ټولنې د ډله‌ييز ارتباط او مفاهمې وسايل په يوه يا بله بڼه د هغه هېواد او ټولنې د خلکو د فکر، انديښنې، فرهنګ، د ټولنيز شعور د پوړ، سولې او سياسي جوړښت استازيتوب کوي.

د سياسي علومو يو پوه په دې اړوند خپل نظر داسې څرګندوي: د هر هېواد د ورځپاڼې د يوې ګڼې په لوستلو سره د هغه هېواد د خلکو د خپلواکې، کلتوري روزنې، فکري او روحي قوت پر اندازې پوهېدلې شو.

نو موږ د ډله‌ييز ارتباط د وسايلو د کار کوونکو په وړاندې تر هر څه دمخه دا غوښتنه او هيله مطرح ده چې له هغو ډله‌ييزو رسنيو څخه، چې په واک کې يې لري په خپل ټول توان دې د عامه بشريت او په ځانګړې توګه د خپلو هېوادوالو ترمنځ د سولې او ورورۍ د فضا د رامنځته کولو او د ملي يووالي د روحيې د پياوړتيا لپاره کار واخلي.

دوی چې په رسنيو کې د خپرولو لپاره قلم او قدم پورته کوي بايد چې حسد، کينه او خپله سرکښه هوا او نفس يوې خواته کړي؛ د هر ټکي، کلمې او جملې په ليکلو او يا ويلو کې بايد له ډېر غور څخه کار واخلي او دا دې نه هېروي چې ليکل يا ويل يې د اړونده ډله‌ييزې رسنۍ له لارې په ډېرې چټکۍ سره د خلکو ترمنځ خپرېږي. پرته له دې چې د هغې يا دغې واکمنې او ځواکمنې منبعې تر اغېز او نفوذ لاندې راشي، يوازې او يوازې دې د ټولنې خوښې او نيکمرغي په پام کې ونيسي، د ژبې او قلم سپېڅلتيادې په تمامه معنا خوندي، خپلې ملي ګټې، ټولنيزې ژمنې، مسئوليت او رسالت دې هيڅکله له پامه نه غورځوي.

# ژبنی زوال...

شته چې يوه ژبه يا ژبې له زوال سره مخامخ کوي، چې يو څو يې د نمونې په ډول دلته يادوو:

په يوه هېواد يا ټولنه باندې د يوه بل هېواد له لوريه د لاس جګول (پورته کول) او د هغه هېواد يا د هغې ټولنې د ژبې يا ژبو د کارونې او پرمختګ مخه نيول. موږ داسې مثالونه هم پيداکولای شو چې زورورو ځواکونو د خپلو شومو موخو د لاسته راوړلو لپاره د ځينو هېوادونو د تاريخي جغرافيې ځينې برخې نيولي، د خپلې خوښې رژيمونه يې ورباندې مسلط کړي او د دوی بومي ژبې يې د ټولنيز پوهاوي- راپوهاوي له دايرې څخه ايستلې او د مرګ او ورکې تر کومې پورې رسولې دي.

په پردۍ او مظلومه ټولنه کې خپلې ژبې ته د اولويت حق ورکول او د هغې ټولنې ژبه د کارونې څخه منع کول.

په بېلابېلو سازمانونو کې د ګډون په سبب په سياسي او اقتصادي لحاظ د پياوړو هېوادنو په ژبو باندې پرېکړې او فيصلې کول او خپلو ژبو ته پاملرنه، نه کول.

په اوسني وخت کې يوه ډېره پليته او ناروا کړنه فرهنګي يرغل دی، چې د ځينو هېوادنو له خوا په شعوري ډول سره تقويه او پالل کېږي او په دې وسيله د يوې ټولنې خپله ژبه له داسې ستونزو سره مخامخ کوي چې ويې‌پانګه يې کمزورې کېږي او د خپل طبعي جوړښت لورى او پلو ترې ورکېږي، ځکه نو د يوه هېواد د واک پر ګدۍ ناست نظام، علمي- څېړنيز مرکزونه او پوهان ټول دا مسئوليت لري، چې د فرهنګي يرغل پر وړاندې ودرېږي او د وړاندې تګ مخه يې ډب کړي.

ژبنی زوال کومه طبعي پېښه نه ده او ټول لاملونه يې په بشري ټولنو کې پراته دي، بشري ټولنې، ټولنيز نظامونه او ټول ټولنيز سازمانونه بايد چې د خپلو ټولنو ژبو ته ټينګه پاملرنه وکړي او داسې لارې چارې ولټوي چې ژبنی زوال له منځه وړی شي. د ژبني زوال يوه ډېره بده او ستره اغېزه دا ده چې انسان د زور او جبر په واسطه خپله ژبه له لاسه ورکوي او په دې خاطر چې ژوندی پاتې شي او ژوند وکړای شي يوه بله ژبه خپلوي. په دې لړ کې انسان يوازې خپل ستر کلتوري ارزښت له لاسه نه ورکوي، بلکې د خپل کلتور او تاريخ څخه هم لرې کېږي او بايلي يې.

که چېرې د ژبپوهنې اصولو او ماهيت ته وکتل شي په ډېرې اسانۍ سره په دې باندې پوهېدلای شو چې ژبپوهنه په هيڅ صورت سره د ژبو زوال نه شي زغملای او تل په دې باندې ټينګار کوي چې هره يوه ژبه که هغه د ډېر لږ لړه‌کي ژبه هم وي بايده دي چې وروزله او وپالله شي او د هغو لاملونو پر ضد ټينګه مبارزه وشي چې يوه ژبه د زوال کندې ته ورغورځوي. اصلي، اړينه او پر ځای خبره دا ده چې د زوال کندې ته هغه عوامل او عناصر وروغورځول شي چې ژبې د زوال تر بريده رسوي او په دې سره بشري کلتور، تاريخ، تمدن او نور ارزښتونه فنا او پوپنا کوي.

د نړۍ پرمختللې ژبې هم د هغه امکاناتو پر بنسټ چې په واک کې يې دي په نورو ژبو باندې ژوره اغېزه کوي او که په علمي اصولو يې مخه و نه نيول شي او وروسته پاتې ژبې و نه پاللی شي د دې امکان شته چې په ډېر لږ وخت کې به ډېرې ژبې له داسې زوال سره لاس او ګرېوان شي، چې په اړه يې فکر هم نشي کېدای. دا يادونه بايد وکړم چې که هره وړه او وروسته پاتې ژبه وروزل او وپالل شي او د نورو ژبو له يرغل څخه وساتله شي د ژبني زوال څخه خوندي پاتې کېدای شي. د دې لپاره ژبپوهنه خپل اصول او لارې ګودرې لري او دا لازمه هم ده چې په دې برخه کې د شته اصولو او لارو چارو څخه په زړه سوي سره سمه، رښتينې او پر ځای ګټه واخيستله شي. ټولې ژبې د روزلو او پاللو حق لري د دوی ترمنځ بايد چې د تبعيض څخه کار وانخيستل شي او داسې ونشي چې دا خپله ړنده لور د پردي زوی څخه ښه وګڼل شي.

# زېری

علمي، څېړنيزه او ادبي پښتو ټولنه ورځنی جريده

د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

د ۱۴۰۰ ل.کال د وږي- تلې مياشتې | ۱۱- ۱۴مه ګڼه | پرله پسې ۳۷۹- ۳۸۲مه ګڼه

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبياتو مرکز خپرنيز ارګان

**مسئول مدير:** څېړندوی احسان الحق کبير

**مهتممه:** څېړنياره شفيقه نوري

**کتنپلاوی:** څېړنپوه دوکتور سيد محي الدين هاشمي، څېړندوی احسان الحق کبير، څېړندوی مطيع الله ساحل، څېړندوی لطف الله صابر، څېړنياره شفيقه نوري.

**د اړيکې شمېره:** (+۹۳)۷۴۴۴۸۷۳۳۵

**برېښناليک:** zerai1316@gmail.com

● په زېري جريده کې له سرليکنې پرته، د نورو ليکنو سپيناوی په خپله د ليکوالو پرغاړه دی.

www.asa.gov.af

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، زنبق څلورلارې، نوی ښار کابل- افغانستان

**د يوې ګڼې بيه:** پنځه افغانۍ



✍ څېړنوال محمد آصف احمدزی


# د فرهنګي او ادبي خبرونو پېښليک

## په کندهار کې مشاعره جوړه شوه

د کندهار په عينو مېنه کې د اطلاعات او فرهنګ رياست له خوا "د اشغال د خاتمې او بشپړې خپلواکۍ" په نومستره مشاعره د وږي پر ۱۱مه د پنجشنبې په ورځ ترسره شوه.

مشاعره مازيګر پيل او د شپې تر ناوخته پورې يې دوام درلود، چې د کندهار د ځايي شاعرانو تر څنګ د جنوبي پښتونخوا، کابل، هلمند، زابل، جلال اباد، غزني، خوست او بېلابېلو ولايتونو څخه راغلو اديبانو، شاعرانو، ترانه ويونکو، نعت ويونکو او ځوانانو برخه اخيستې وه.

مشاعره کې د اسلامي امارت د بريا او د امريکا د ماتې يو په زړه پورې تمثيل هم وړاندې شو.

## نيمروز کې مشاعره وشوه

د نيمروز د اطلاعاتو او فرهنګ رياست د اسلامي امارت د برياليتوب په مناسبت د مشاعرې غونډه د وږي پر ۱۹مه جوړه کړه.

دغه غونډه د نيمروز په مرکز زرنج ښار کې د يوشمېر ديني عالمانو، شاعرانو او د رسنيو د کارکوونکو په ګډون جوړه شوه.

## ليکوالې زيتون بانو له نړۍ سترګې پټې کړې

د پښتو ژبې ليکوالې، شاعرې او افسانه (لنډه کيسه) ليکونکې زيتون بانو له اوږدې ناروغۍ وروسته د ۱۴۰۰هـ. ش کال د وږي پر ۲۳مه (د ۲۰۲۱م کال د سپتمبر ۱۴مه) د ۸۳ کلنۍ په عمر په پېښور کې له نړۍ سترګې پټې کړې.

زيتون بانو د پښتو د اوسنيو ښځينه ليکوالو په سر کې راځي چې شاوخوا پنځوس کاله يې پښتو ژبې او ادب ته کار کړی او په دې موده کې يې تر لسو زيات کتابونه ليکلي چې اکثر يې داستاني آثار دي.

د نوموړې لومړی غزل د هند تر وېش وروسته د ۱۹۵۱م کال په اپرېل مياشت کې په ((انجام)) اخبار کې چاپ شوی و. مېرمن بانو وايي چې اجمل خټک له دې غزلې سره ليکلي وو: ((که زيتون بانو په رښتيا ځوک پښتنه پېغله ده، نو د پښتو ادب سباوون روڼ دی.))

زيتون بانو د پېښور د خليلو تپې په سپينه وړۍ کلي کې د ۱۹۳۸م کال د جون پر ۱۸مه د پيرانو په کورنۍ کې زېږېدلې وه، پلار يې پير سيد سلطان محمود او نيکه يې عبدالقدوس تندر هم شاعران وو.

مېرمن بانو لومړنۍ زده کړې د پېښور په اسلاميه کالجېټ کې کړې او لسم ټولګی يې د اليزابيت ګرلز سکول کې بشپړ کړی و. نوموړې درې ماسترۍ (په اسلامياتو، پښتو او اردو کې) کړې دي.

زيتون بانو وايي، کله چې وړه وه، په کلي کې خلکو خصوصاً ښځو د دې له زده کړو سره ډېر مخالفت کاوه، خو وايي چې دې له تعليم سره مينه لرله، ځکه خو يې له لسم ټولګي څخه ليکوالي شروع کړه او په خپلو لنډوکيسو کې يې د ښځو د ژوند انځورولو ته ډېر پام وکړ.

زيتون بانو ډېره موده د پېښور په راډيو او تلويزيون کې هم کار کړی او ګڼې ډرامې يې هم ليکلې دي چې ډېرې يې په فلمي بڼه جوړې شوې او د پاکستان د دولتي تلويزيون له لارې خپرې شوې دي.

مېرمن بانو د خپل کار پر سر ګڼ شمېر ادبي اېوارډونه اخيستي و. د پاکستان د حکومت لوی اېوارډ (پرايډ آف پرفارمينس) هم په ۱۹۹۷م کال کې ورکړل شوی و او له دې سره- سره يې د پښتونخوا اباسين آرټس کونسل، ګندهارا او نورو ادارو هم وخت په وخت انعامونه او جايزې ورکړې دي.

زيتون بانو د نورو پښتو ليکوالو په نسبت شاعرۍ لږ او نثر خصوصاً لنډه کيسه يا افسانه يې ډېره ليکلې ده. د هغې د لنډو کيسو ۱۳ ټولګې، يوه د ډرامو ټولګه او يواځې يوه شعري ټولګه يې د ((منجيله)) په نامه چاپ ده.

د زيتون بانو د لنډو کيسو (افسانو) د ځينو ټولګو نومونه دا دي: ((هنداره))، ((ژوندي غمونه))، ((مات بنګړي))، ((خوبونه))، ((زما ډايري))، ((نيزه وږی))، ((د شګو مزل)) او ((د خاورو ځلی))....

د مېرمن بانو ډېرې افسانې مختلفو ليکوالو او په خپله ليکوالې هم په اردو ژبه ژباړلې دي چې وخت په وخت د پاکستان په مشهورو اردو مجلو کې چاپ شوې دي، خو دغه اردو افسانې يې په کتابي بڼه نه دي چاپ شوي.

## د «ميرويس نيکه» تاريخي ناول مخکتنه وشوه

د «خوشحال بابا فکري بهير» ۳۵۱مه اونيزه غونډه د ((ميرويس نيکه)) تاريخي ناول مخکتنې ته ځانګړې شوې وه.

دغه غونډه په کابل کې د وږي پر ۲۵مه ترسره شوه. ((ميرويس نيکه)) يو تاريخي ناول دی چې د هېواد پياوړي ليکوال زبير شفيقي ليکلی دی. په دې ناول کې له صفويانو او کورګانيانو سره د افغان ولس مبارزې او د دغو مبارزو د مدبر سرلاري ميرويس نيکه کارنامې په ډېر هنر سره انځور شوې دي. د دې ناول په پاڼو کې د افغان ولس لپاره ډېر مهم درسونه نغښتي دي، چې په اړه يې د خوشحال بابا فکري بهير په ځانګړې غونډه کې خبرې وشوې.

په دې غونډه کې د هېواد پياوړو علمي او فرهنګي شخصيتونه ويناوې وکړې او په پای کې آزاد بحث ته هم وخت ورکړل شو.

## اروزګان کې مشاعره وشوه

دا مشاعره د اروزګان په مرکز ترينکوټ ښار کې د ځوانانو لپاره د غازي امان الله خان په تفريحي پارک کې د اطلاعاتو او فرهنګ رياست له خوا د وږي پر ۲۵مه ماښام مهال جوړه شوې وه.

په دې مشاعره چې زرګونو کسانو په کې ګډون کړی و، د اروزګان د شاعرانو، ليکوالو او نعت ويونکو ترڅنګ د هېواد د نورو ولايتونو شاعرانو او ليکوالو هم ګډون کړی وو.

مشاعره په درېوو برخو وېشل شوې وه: ويناوې، مشاعره او ورزشي ننداره.

## په بغلان کې مشاعره جوړه شوه

په بغلان کې د ازادۍ په نوم مشاعره د وږي پر ۲۸مه جوړه شوه چې ګڼ شمېر شاعرانو، ليکوالو، حکومتي مسئولينو او نورو خلکو په کې ګډون درلود.

## د «خپلواکۍ» په نوم مشاعره جوړه شوه

په ميدان وردګو ولايت کې د خپلواکۍ تر عنوان لاندې مشاعره د تلې پر ۹مه جوړه شوه.

د ميدان وردګو والي مولوي رحيم الله محمود په دې مشاعره کې وويل چې شاعرانو په جهاد کې پوره ونډه لرله او د خپلو شعرونو پر مټ يې فکري او ذهني رغونه کوله.

په دغه ولايت کې د دعوت او ارشاد اداري رئيس مولوي محمد عالم ناصح وويل چې ليکوال او شاعران سره جګړه مخته وړي او په خبره يې دوی بايد د يتيمانو او کونډو اوښکې په ليکنو کې منعکسې کړي.

په ياده مشاعره کې د هېواد له ګوټ- ګوټ څخه وتلو او منلو شاعرانو د شعر او ترنم په ژبه د نظام له چارواکو د عدالت پلي کېدو، بيت المال ساتنې او د ډېورنډ فرضي کرښې د برخليک غوښتنې وکړې.

## خوست کې د خپلواکۍ په نوم مشاعره جوړه شوه

په خوست کې د خپلواکۍ تر سرليک لاندې ولسي مشاعره د تلې پر لسمه ترسره شوه.

په مشاعره کې د خوست پر شاعرانو سربېره د هېواد لسګونو شاعرانو، ليکوالو او د شعر او ادب مينه والو برخه اخيستې وه.

شاعرانو په دې مشاعره کې د هېوادنۍ مينې او خپلواکۍ په تړاو شعرونه وويل چې د ګډونوالو له تاوده هرکلي سره مخامخ شول.

## عبدالرزاق ګورنه د نوبل د ادبياتو جايزه وګټله

په سويډن کې د نوبل اکاډمۍ نامتو ناول ليکوال عبدالرزاق ګورنه د تلې پر ۱۵مه د سږ کال (۲۰۲۱م) د ادبياتو د جايزې ګټونکی اعلان کړ.

ګورنه په ۱۹۴۸م کال د ختيځې افريقا د تانزانيا هېواد په زينزبار (زنجبار) کې زېږېدلی. په ۱۹٦۸م کال د زده کړو لپاره بريتانيا ته لاړ او اوس د دغه هېواد په کېنټ پوهنتون کې ادبيات تدريسوي.

دی د واسافيري مجلې چلوونکی هم دی.

د ده لومړی ناول (*Memory of Departure*) «د روانېدو خاطره» نومېږي چې په ۱۹۸۷م کې يې ليکلی دی. ورپسې يې په ۱۹۸۸م کې (*Pilgrims Way*) او په ۱۹۹۰م کې (*Dottie*) ناولونه خپاره شول.

خو (Paradise) يا جنت د ګورنه تر ټولو مشهور ناول دی چې په ۱۹۹۴م کې چاپ شو. دې ناول چې د لومړۍ نړيوالې جګړې په لړ کې د ختيځې افريقا تر استعمار لاندې ژوند انځوروي، د بوکر جايزه ګټلې ده.

په ۱۹۹٦م کې يې (*Admiring Silence*) ناول چاپ شو. دا ناول د يوه ځوان کيسه ده چې له زينزبار څخه ځي او انګلستان ته مهاجرت کوي. هلته واده کوي او معلم کېږي. شل کاله وروسته خپل اصلي ټاټوبي ته راګرځي.

ګورنه د بريتانيا په برايټن کې اوسي او وروستيو ناولونو يې چې يو (*Desertion*) په ۲۰۰۵م کې او بل (*The Last Gift*) په ۲۰۱۱م کال کې چاپ شوي، د کامن ويلت د ليکوالو جايزې ګټلې دي.

ګورنه ټولټال ۱۰ ناولونه او يو شمېر لنډې کيسې ليکلي دي. ده په خپلو ناولونو کې پر خپل هېواد تانزانيا د استعمار اغېزې او د کلتورونو ترمنځ د کډوالو برخليک انځور کړي دي. ده خپل ناولونه په انګليسي ژبه کښلي دي.

## شاعر هيله‌من ژوندی ووژل شو

د خوست ولايت ځوان او د ځانګړي طرز شاعر هيله‌من ژوندی د تلې پر ۲۸مه د خوست د ((کوندو)) په سيمه ووژل شو.

د کورنيو چارو وزارت وياند قاري سعيد خوستی وايي چې د خوستي شاعر او ليکوال هيله‌من ژوندي د قتل قضيه سياسي اړخ نه لري، بلکې شخصي موضوع ده.

ژوندي همېشه د خپلو ويډيويي شعرونو له لارې پر خلکو مينه او خوښي وېشله. د هغه يو شعر دی:

زه فکر نه کوم چې هېڅوک به ژوندی پاتې شي
افغانستان دی دلته هر څوک قرباني ورکوي

## تازه چاپ شوي آثار

**د اخون مياداد نورنامه چاپ شوه:** دا ارزښتمن اثر د پاچا خان پوهنتون پښتونخوا څېړنيز مرکز استاد ډاکټر نور الحکيم حکيمزي په ۲۰۰ مخونو ترتيب کړی دی. پر کتاب فيض الوهاب فيض او ډاکټر سيد محی الدين هاشمي نظرونه ليکلي دي.




په دې کتاب کې په تفصيل سره د اخون مياداد پېژندګلوي، د ميا اخوند د نوم څېړنه، د نورنامې شکل او مفکوره، د مياداد د نورنامې څېړنه او کتنه، د درويزه مکتب کې د مياداد د نورنامې ادبي مقام او د نورنامې متن د تحقيق په رڼا کې په ډاګه شوی دی.

**ناروېژي- پښتو قاموس چاپ شو:** دغه قاموس (STOR NORSK-PASHTO ORDBOK) د محمد طارق بزګر له خوا ليکل شوی چې په دې وروستيو کې په بهر کې چاپ شوی دی.




د قاموس ليکوال ليکلي چې دا قاموس د ۱۷ کلن زيار په پايله کې د ۵۰زرو ناروېژي لغتونو په درلودلو سره په زر(۱۰۰۰) مخونو کې د چاپ په ګاڼه ښکلی شوی دی.

ده زياته کړې: "زه د دې لوی قاموس چاپ لومړی خپل ټول افغان ولس ته چې د هېواد دننه او بهر دي او په ځانګړي ډول د ناروې، سويډن او ډنمارک مېشتو پښتنو او افغانانو ته مبارکي وايم".

سرچينه: د (M Tariq Bazger) فېسبوک پاڼه.

**د شعر شرعي حيثيت:** د حبيب الله قلم‌مل اثر دی چې د شعر شرعي حکم، شعر د قرآن کريم له نظره، شعر او شاعري د احاديثو له نظره، د ښو او بدو شعرونو نمونې، همدارنګه د شعر او شاعرۍ اړوند ضروري او ګټور معلومات په کې راغلي دي.




**چشم شبنم:** دا د عبدالله شادان اثر دی چې د پښتو ژبې خوږې لنډۍ/ ټپې يې غوره کړې او په دري ژبه يې په موزونه بڼه ژباړلې چې په ۲۵٦ مخونو کې راټولې او چاپ کړې يې دي.

**د سهيلي پښتونخوا پښتو خطي پانګه:** د رحمت بي بي اڅکزۍ اثر دی چې د ډاکټر رفيقي څېړنيز مرکز کوټې له خوا خپور شوی دی.

